انجينر داؤد اڅک
۰۱ نومبر ۲۰۲۲

# د انسان کمزوري په غزل کي

له ډېره وخته سوال راته پیدا وو چي اوسنۍ د ۲۱ مي پېړۍ متمدن انسان ولي ندی توانېدلی چي ببله جنګه، د صلحي په فضا کي یوه ښکلي او ارامه انساني ټولنه جوړه کړي، څو خپل مشکلات په منطق او تفاهم سره حل کړي. همدې سوال ته مي د جواب موندلو لپاره لستوني را ونغښتل او روان سوم. لومړئ مي د هېروکلیت، جان لیګان، کارل فورس او نورو فیلسوفانو او عالمانو نظریات پیدا او و لوستل. چا ویل جنګ د انسان فطرتی غریزه ده، چا ویل جنګ پر غله (ګټو) دی او داسي نور. وروسته د انسان پېژندني عمومي سړک ته ور و وتم او سفر مي پیل کړ، د لږ سفر وروسته مي و لیدل چي تر هر څه مخکي باید لومړئ سړک (د انسان زات) طئ کړم. کله چي نوموړي سړک ته ور شوه سوم، سمدستي مي د اروا پوهني، ټولنپوهني، ښکارهنګ (کلتور) پوهني، سیاسي فلسفي او بیولوجي لوحي تر سترګو سوې. معنا دا چي د انسان زات ته تر رسېدو مخکي باید دغه کوڅو ته هم سر ور ښکاره کړم. زه هم په نوبت سره په نوموړو کوڅو کي و ګرځېدم او چکر مي و واهه خو په هره کوڅه کي بیا نوري کوڅي وې، یعني موضوع ډېره پېچلې وه. لنډه دا چي ما تر خپله وسه سترګه و لغړول او بیرته بې پایلي عمومي سړک (انسان پېژندني) ته را و ګرځېدم. یوه یخ سیوري ته کښېنستم او د دمي وروسته مي پرېکړه و کړه چي:

په اوسنۍ نړۍ کي د جنګونو لامل د انسان کمزوي ده. دا چي زما اصطلاح (کمزوري) په بیولوژي او اروا پوهني په څه نوم نومولي وې یا به ئي و نوموي نه پوهېږم. خو زما په اند یو انسان چي هر څه یا ډېر څه ځانته غواړي دغه بې ځایه غوښتنه اوغرور د انسان کمزوري ده. همداسي ډېر انسانان وینو چي په نورو انسانانو کي اصلاح او بدلون غواړي خو پخپل ځان کي اصلاح او بدلون نه مني. د ډاکترانو په شمول ټول انسانان د ایروین، چرس، الکهول، سګریټ، نسوار، پاڼ او نورو نشه یي توکو په ضرر پوهیږي خو بیا ئي هم استعمالوي.غوښتل مي د انسان کمزوري په مفصل ډول په نورو بېلګو کي در و پیژنم خو لیکنه ډېره اوږده سول ځکه مي سمدستي د شعر کمال ته رجوع و کړل چي پراخ مسایل پخپل کوچني وجود کي ځایوي. نو ما هم خپله اوږده لیکنه په لاندي غزل کي را و نغښتل. دا تاسي او دا ئي د انسان کمزوري په غزل کي.

## د انسان کمزوري

يــوه لـویــه کـمـزوري لـري انســـان          کـه ئـي لـيـري کـړي جهان به سي ودان
بل ته ښي خوږې خبري نصيحت کړي          نـاصـح نــه کـوي عمل پـه خـپـل بـيـان

بل ته غواړي اصلاحات او نيکي چاري     خپله نه راوړي هغه اصلاح پر ځان
اوسنۍ نړۍ به هله انساني سي     چي هر يو سو جواب ګو د خپل وجدان
په شعار او تظاهر مو څه جوړ نکړل     خدای ته ګوروۍ قدر و کړۍ د زمان
د توپک او غرور لاره وپيجاړي ده     مينه و کړۍ مينه نوم دی د انسان
که هر څوک يو د بل حق لره قائل سو     زموږ نړۍ ده ښايسته جنت نښان
د ځان شته دي هموطن لره هم غواړه     چي ښکلا هم د ماحول سي هم د ځان
د ګلاب په رژيدو بلبل هم خوار سي     چي سپيلۍ پر چمن راسي د خزان
که دي يو عاشق اصلاح وای د زړه سره     اوس به نه وای داسي خوار پردې جهان

د داؤد تشه دعا پر ډير څه نيسه
رب دي جوړ که ښايسته افغانستان

۳۱- ۱۰ - ۲۰۲۲